# نیمګړي مینه

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | نیمګړی مینه | 1. |
| لیکوال | اجمل افغان | 2. |
| خپرونکی | پښتو ادبي بنډار | 3. |
| چاپ شمیر | 100 ټوکه | 4. |
| چاپ نیټه | 2020 /1/2 نیټه | 5. |
| کمپوزر | اجمل افغان | 6. |
| ژباړن | اجمل افغان | 7. |



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خپرندوی یادښت

ددی ناول د لیکلو موخه ټولو هغو لیکوالانو ته چی په پښتو لیکنې کوي خو له بده مرغه په خپلو کتابونو کښئ نیمګړیتاو ته پام نه کوي که لږ هڅه وکړو کولی شو په خپلو لیکنو کښئ نیمګړتیاوي له مینځه لیرې کړو که څه هم زما په لیکل شوي کتاب کښئ تر ټولو ډیری نیمګړتیاوې دي ژمنه کوم چی ښایسته پښتو به پوره زده کوم او ان شاالله په همدی ژبه به ګټور علمي اسار ژباړم او د هیواد والو په درانه چوپړ کښئ به یې ګدم په درناوي

## تړون

د کتاب دی هغو عاشقانو ته ډالۍ وي چاچی د مینې ددرد د زغم څخه پرته هیڅ نه وي لیدلي

## بسم الله الرحمن الرحیم

د ژمي ورستې شپې وی تازه مې دنده خلاصه شوی وه د روزګار په لټه کښئ وم په همدی موخه می د ځینې ملګرو څخه د مرسته غوښتنه کړي وه چی پاچا ورور راڅخه ددولسم ټولګي تصدیق او ځینې نور اسناد غوښتي وه یولس بجي د کلي نه د ښار په لور روان سوم شاوخو یوه بجه ښار ته ورسیدم پرته له دی چی وخت زایه کړم سمدلاسه نیټ کلب ته لاړم او اړوند اسناد مي پاچا ورور ته د ایمیل له لاري واستول په همدی وخت کښئ زما د نیټ کیفی تر څنګ په نیټ کیفه کښي ناستي جینۍ په ښکلې او نري غږ راڅخه د ټلیفون غوښتنه وکړه ما هم پرته له کوم زنده خپل نوکیا ټلیفون ورکړ زه په نیټ کښئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا بوخت وم چي ښايسته جينۍ ټليفون راکړ او په خوږه دري ژبه يې راڅخه مننه وکړه د نيټ کلب څخه را اووتم او د کلي په لور راروان شوم د لارې په اوږدو کښئ يو ملګري لنډه اړيکه( يا مسکال ) راکړ ماهم پرته له زنډه ورته زنګ اووه ټليفون ځواب راکړ چې تاسو کافي حساب نه لري هيران سوم چ سهار مې پنځوس افغانۍ ورزياتي کړي د لنډ فکر وروسته مي پام سو چې کيداى سې هغې جينئ لږولي وي په همدي موخه د تليفون شميرو ته لاړم چي ګورم هغې جينۍ يوي بهرني شميري سره اړيکه نيولي او وروسته يې يوي کورني روشان شميري سره اړيکه نيولی مازديګر کلي ته راورسيدم د لمونځ د ادا کولو وروسته باغ ته ولاړم زموږ بڼ د زموږ د کور څخه لږ ليري دی د لاري په اوږدو کښئ مي يو کارت هم وپيره په باغ کښي مې لږ مطالعه وکړه وروسته مي لمړی هغه ملګري ته وروسته مي بيا هغې روشان شميري ته زنګ اووه ټليفون يې پورته کړ لمړی يې خبرې ونه کړي خو کله چي مي تليفون بندوه ورو يې اوويل سلام لمړی په نري او کرار غږ زما څخه وپوښتل چې ته څوک يې او له چا سره دی کار ده ماهم ورته ټوله قيصه وکړه بيامي تري وغوښتل چی که کيداسې ځان راوپيژنه هغه مروه وه د کاپيسا ولايت اوسيدونکي وه لمړی زدکړی يې د مرکز کابل د بی بی مهرو د ليسې څخه تر لاسه کړی وي او د کابل پوهنتون د ژورناليزم پوهنځي څخه يې ليسانس کړی وه او اوس محال يې په(--------) کښئ د جرمني يا الماني ژبی زدکړياله وه ماهم تری ښښنه اوغوښته او اړيکه مو پريک کړه سبا ماښام مروه بيا مسکال راکړ بيامو څو دقيقی خبري وکړي خو په مطلب ونه پوهيدم لنډه دا چي د خبرو دی لړۍ دوام پيدا کړ مروا به چي وخت پيدا کړ مسکال به يې راکړ او مابه هم د عدت له مخی زنګ ورته اووه او خبري به مو دومره اوږدی شوې چي تليفون کښئ به پيسي خلاصې سوي

وخت تيريده چي يوه ورځ مروا له ما څخه اوغوښتل چی له نيږدی ورسره او ګورم وخت مو وټاکه بس ما هم د خپل ورور موټر واخيست او ورغلم په ټاکل شوې ځای کښئ مو سره وليدل د روغبړ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته موټر ته پورته سو او په ښار کښې مو ځینې خوراکي توکي راونیول او د پغمان په لور مو حرکت وکړ د لاړې په اوږدو کښې می مروا ته پټ پټ کتل ما مروه دمخه په نیت کلب کښې لیدلي وه خو هغه وخت مو سره نه پیژندل نو زکه می سم ورته نه وه کتلي هغه ډیره ښکلی وه د مروا قاتلی سترګې دومره ښایسته وی چی کله به یې ماته مخامخ وکتل د بدن نه به مي روح پورته سو او د زړه درزا به می تر څو شیبو ودریده ټوله لار می د هنداره په پلمه د هغې قاتلو ستوګو ته کتل تر پغمان خنګه ورسیدو هیڅ پوه نه سوم کله چی پغمان ته ورسیدو مروا ویل چی د موټر څخه نه ښکته کیږو ځکه د مروا پلار د ملي امنیت لوړپوړی افسر وه او په تجسوس کښې ډیرو فعاله جاسوسانو ورسره کار کاوه له همدي کبله په موټر کښې پاتي شو مروا ډیره حیاناکه جینئ وه له همدی کبله غلی وه او د څه ویلو جرات یې نه کاوه کله کله به یې یو څه اوویل زه هم ددي څخه وړاندي له کومي جینۍ سره یوازې نه وم ناست دداسي یو حالت تجربه می نه لرله مابه هم چی څومره هڅه کوله چی داسې موضوع را وسپړم چی بی پایه خبري پکښې وکړم خو نه بریالی کیدم د څه زیاتو کم یو ساعت ورسته بیرته د ښار په لور راروان شو دلاري په اوږدو کښې مروا لږ ډاډه سوه او ځینې خبري مو سره وکړي د مروا انسټیوټ ته ورسیدو خدای پاماني مو سره وکړه زه هم کورته راغلم مازدیګر مروا زنګ را اوه او د تل په څیر مو ډیري خبري سره وکړي خو د نورو ورځو سره په توپیر مروا ډیرپه جګ غږ او ډیري تیزي خبري کولي ماهم دهمدی موقع نه ګټه پورته کړه او د خپلي اړیکې په اړه می تري اوپوښتل چی زما اوستا ترمینځ څه اړیکه ده ایا ته له ماسره مینه لري ؟ او که یوازې ملګري یو لږ شیبه چپ شوه او بیایې په ستومان او نري غږ اویل نه پوهیږم کله چی یوازې شم زړه می غواړي چی تاته زنګ اوهم ستاغږ واورم اوس خومی لا زړه غواړي چی تا په غیږ کښې ونیسم ښکول دی کړم کله چی دی غږ واورم وارخطا شم د زړه درزا می دوه چنده شي اوس حیرانه یم چی دا مینه ده او که بل څه زه هم غلۍ پاتې شوم او مروا هم څوشیبي غلي وه بیایې له ماڅخه ویوښتل ګرانه ته څه وایي ته هم همداسي احساس لري ماهم اوویل هو زه هم نه پوهېږم خو د کله نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مي چي ليدلي يې

☐

ستا تصير مې مخ ته ولاړ ده او بل هيڅ هم نه وينم تر ډيره مو د يو بل صيفتونه وکړل خو کله مو چي خدای پاماني سره کوله مروا اويل ګرانه مينه درسره لرم ! او ټليفون يې بند کړ بس سر له همدی شيبي د ميني قيصه پيل سوه کار روزګار هرڅه راڅخه پاتې سوه کله به چي د مروا دوي کور کښئ ځوک نه وه زنګ به يې اووه مابه هم د څه باندې يو ساعت مزل په نيم ساعت کښئ ختم کړ او ځان به مي وروړسوه کله به چی د مروا دوي کور ته ورسيدم تليفون به مي وکړ مروا به په پورته هنداره کښئ را ښکاره سوه او په پهره دار به يې غږ وکړ اجازه ورکړي دا زما ټولګي وال ده د تيرو درسونو نوټ يې راوړي وخت همداسي په بيړه روان وه او همداسي شاوخوا شپږ مياشتي تيري شوې يوه ورځ مروا زنګ اووه او په جرغوني غږ يې او ويل زه المان ته ځم زه هم هک هيران سوم چی څنګه کله مي چي تري اوپوښتل چي تا خو په دي اړه ماته هيڅ هم نه دي ويلي مروا هم په داسې حال کښئ چي سلګي يې وهلی اوويل ما ډيره هڅه وکړه چي درته اووايم خو ددی لپاره چي راڅخه بيل نشې يريدم خو اوس مجبوره سوم زکه زه او زما د واده زلمی چي په کال 2005 کښئ مو کوژدن کړي وه او دوه ورځې وروسته مو واده دی وروسته له واده کولو المان ته زو لمړي مې فکر وکړ کيدي سې ټوکي به کوي له څو دقيقو خبرو ورسته يې دومره راته اوويل زه ټليفون بندوم او دامي له تاسره وروستي اړيکه ده هيله کوم چي ما اوبښه او زما او ستا مينه لکه يو راز په خپل زړه کښئ وستاته

**پاي**

Last modified: 4:48 PM

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**